مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد ایاز نوری
۲۰۲۶/۰۲/۲۵

# د افغان ليکوال او محقق محمد انور آخړ په مطالعه کښې


د سيمې او افغانستان ستر علمي شخصيت علامه عبدالحی حبيبي

گرانه او قدرمنه عزيزه، محمد آياز نوري صاحب سلامونه او ښې چارې
ستاسو مرکه چې د لوی استاد علامه حبيبي صاحب له زوی، ډاکټر خوشال حبيبي صاحب سره مو کړي وه ولوستله، ډېر مهم مالومات چې موږ نه وو اوريدلي ولوستل، په ځانګړي توګه د علامه حبيبي صاحب هغه کتاب (نادر خان و خاندان او) چې حبيبي صاحب د (مهاجر افغان) په مستعار نوم ليکلی ؤ، د څېړونکو او تاريخپوهانو لپاره ډېر ارزښت لري چې د ښاغلي خوشال حبيبي لهخوا تصديق شو چې نوموړی کتاب د مرحوم علامه حبيبي صاحب د تبعيد پر مهال ليکل شوی دی. څه موده وړاندې د دغه کتاب په هکله ما له سرڅېړونکي زلمي هېوادمل صاحب څخه وپوښتل او کتاب مې ورولېږه خو هېوادمل صاحب هم مالومات نه لرل، (په داسې حال کې چې هېوادمل صاحب د حبيبي صاحب تر ټولو له نږدې او مخلصو شاګردانو څخه ؤ چې د حبيبي صاحب ټول اثار يې لوستي او په حافظه کې لري.)
دا ښه شوه چې د دغه کتاب تصديق د ډاکټر صاحب خوشال حبيبي لهخوا وشو.
بلې خوا په دې خواشينی شوم چې ډاکټر صاحب د علامه صاحب کتابتون او قلمي ليکنې مرحوم محمود حبيبي ته سپارلي خو بيا د کتابتون مالومات نه شته چې چېرې دی او څه شو؟ زه له ډاکټر صاحب خوشال حبيبي څخه هيله کوم چې په اړه يې پلټنه وکړي تر څو د حبيبي صاحب کتابتون او قلمي اثارو ځای مالوم شي.
په پای کې ستاسو له هڅو او کوښښونو مننه کوم چې د غازي امان الله خان له خواخوږو سره اړيکې ساتې او مالومات وړاندې کوئ.
له لوی ښتن څخه روغتيا او بريا درته غواړم
**************************************

محترم محمد انور آخړ صاحب، ستاسو لنډه تبصره ۲۱ د فبروري مې د پورتال د نظرياتو په کړکۍ کې ولوستله. مننداوی يم دا، چې زما دغه مرکه مو د لوی ملي مبارز مرحوم علامه عبدالحی (حبيبي) د زوی، دوکتور خوشحال خان سره په دقت لوستلې او ستايلې مو ده. البته مرکه لکه تاسو، چې ذکر کړي د حبيبي صاحب د زوی سره، دا پخپله د اهميت وړ او مهمه نقطه ده. تاسو د علامه هغه مهم او تاريخي اثر **«نادر خان و خاندان او»** رسالې ته ګوته نيولې او هغه مو افغان ليکوال او محقق محترم زلمي (هېواد مل) ته وريادہ کړې او هغه جناب دا اثر لا نه پېژندلو... عرض


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

وشي، چې د ګران افغانستان تاريخي بهير په ټولو برخو کې خصوصاً د اماني وياړمن او مستقل دولت د سقوط (۲۴ جدي ۱۳۰۷ل) څخه پس پخپله يو کړکېچن بهير ده. تاريخي مهم اسناد هم د سقاو د ۹ مياشتني وحشت پر وخت، بيا ۴ کاله د نادر شاه په جابر حاکميت کې او وروسته چور او تالا سوي او حتی د حاکميت په ګټه ورکې لاس وهل سوی ده. علامه حبيبي لکه زوی يې، چې زما سره مرکه کې شاهدي ورکوي، دا رساله د تبعيد پر موقع ليکلې ده او مصلحتاً يې د حاکم شاهي خاندان د خطر له کبله پټه ساتلې وه او بيا يې د ليکوال په فکر په مناسب وخت کې افغاني ټولنې ته وړاندې کړې ده. همداء راز مونږ دلته نور مشابهتونه هم لرو. د بېلګې په توګه د بل افغان مشهور مبارز مرحوم مير غلام محمد (غبار) مهم کتاب «افغانستان در مسير تاريخ، دوهم ټوک»، وارثانو يې د هېواد د سياسي حالاتو په ليدو ايله په ۱۹۹۹ز کې چاپ ته ورکړ او افغان ولس ته تقديم سو. يا بل ډېر مهم د هېواد د تاريخي حوادثو کتاب د اعليحضرت غازي امان الله خان د ببرته پاچا کېدلو باب (د افغانستان د خپلواکي او نجات تاريخ، ليکوال جرنيل مرحوم يار محمد خان وزيری کتاب)، چې مونږ تاسو اوس دغه لس کاله مخکې وپېژانده. يا بل مهم سند (کشف الحال نادر، بقلم اعليحضرت امان الله خان، د محمد قاسم آسمايي) له خواء دغه ۵ کاله مخکې افغانانو ته تقديم سو او وروستی مثال، ما ليکوال په ۲۰۱۰ز کې د اعليحضرت امان الله خان د وراره، والاحضرت حقوق پوه کبير الله (سراج) څخه د مشر غازي د ليکلو خاطرو د موجوديت څخه وپوښتل. هغه مرحوم ماته وويل، ما دا سوال په ۱۹۵۱ز کې په روم کې د خپل کاکا څخه وکړ، چې تاسو خپلې د ژوند تاريخي خاطرې ليکی او کنه؟ اعليحضرت امان الله خان وويل: «ما خپلې خاطرې ليکلي او خپل منشي ته مې ورکړي، تر څو سل کاله پس يې نشر ته ورکړي»، اما دا خاطرې تر ننه نشر ته رانغلي، سړی نه پوهېږي. خلاصه عرض کوم، چې زمونږ د مظلوم افغانستان سره د اماني استقلال راوړوونکي دولت د سقوط څخه پس بيا تر نن پورې په هره عرصه کې ظلم او تجاوز سوی ده.

ستاسو جناب د دوهم سوال او تبصرې باب، دا چې د پوهاند صاحب عبدالحی (حبيبي) ليکلي آثار او هغه د نورو شخصيتونو قلمي نسخې، چې علامه سره ټولې او خوندي کړې وې، د هغه د رحلت څخه پس اوس چېرته دي، دا سوال مو خورا مهم ده. د علامه د زوی په حواله دغه تاريخي اسناد د علامه د کاکا زوی جناب دوکتور محمود (حبيبي) سمبال کړې وې، او هغه جناب هم اوس مرحوم او مونږ کې شتون نلري، کېدلای سي، د علامه حبيبي زوی ستاسو دغه تبصره ولولي او ستاسو دغه تشويش ته نور هم وضاحت درکړي. زه به هم کوشش وکړم، چې جناب خوشحال حبيبي ته ټيليفوني دا موضوع اکيداً ور ياده کړم.

بله موضوع، چې د علامه د زوی په مرکه مهمه او حساسه ده، هغه د علامه حبيبي تګ يا د حاکم خاندان له خواء د هغه جبري لېږل په کال ۱۳۲۹ل د پاکستان هېواد ته ده. ستاسو محترم آخړ صاحب به په ياد وي، تېر کال چې د علامه زوی د علامه رساله «نادر خان او خاندان يې»، د همدغه پورتال له طريقه نشر ته ورکړله، نو د بعضو مخاليفينو له خواء د علامه تګ پاکستان ته د هغه د فرار په حيث و دوشمن ته، سخت وغندل سو، اما پس ته بيا هم د خوشحال حبيبي په ذريعه واضحه سوله، چې دا عمل پر علامه د حاکم شاهي خاندان له څواء تحميل سوی ؤ. مرحوم حبيبي دلته په تفصيل د موضوع وضاحت ورکړی ده، چې دئ د جناب په نه رضايت کې د وخت صدراعظم شاه محمود خان له طرفه دفتر ته يې جلب کېږي او هلته صدراعظم د خپلو خبرو په ترڅ کې، ظاهراً ورته دا بهانه مخته کوي، چې ته پشتونستان ته ولاړ سه او هلته د پشتنو د حقوقو د اعادې لپاره مبارزه وکړه او افغان دولت به ستا ملاتړ کوي...؟!، او ده او او فاميل ته يې د مخصوص پاسپورت د ورکولو يادونه هم ورته کوي.علامه لکه يو زيرک سياست وال او د ژوند د سړو او تودو ليدلای افغان شخصيت، دا تصميم د حاکم خاندان په يوه لنډه جمله کې راتحليل او داسې درج کړي: «**خو هلته ژر وپوهېدم، چې دا ټول د وطن د سياسي او د آزادي څخه ملهم تود ډګر څخه زما د ايستلو لپاره پراخ تمهيد او تفتين ؤ، چې په مهارت بناء سوی ؤ...**». دلته د دغه قلم تحليل او تجزيه دا ده، چې لومړی زه د علامه حبيبي هغه معنوي قدرت او عظمت ته متوجه کېږم، چې يوه خواء يو افغان فرد او مقابل طرف يې يو مقتدر حاکم دولت... اما دوی د حبيبي څخه تر دې حده ډارېدل او د هغه موجوديت يې د يوه مشروطه غوشتوونکي او امانيست په صفت په دننه د هېواد کې خپل حاکميت ته يو خطر تشخيص کړای ؤ، نو خاندان په پټه فيصله سره کړې وه، چې دا شخصيت بايد د دوشمن اراضي ته ورولېږو، هلته به هر دم د هغه ژوند په خطر کې وي، په يو شکل د اشکالو به تلف سي او مونږ به ورنه بيغمه سو.(دلته کلک وکړی د ليکوال مرکه د علامه د زوی خوشحال حبيبي سره منتشره د پورتال ۱۹د فبروي ۲۰۲۶ز کال)

ستاسو وروستی سطر، چې زه قاصر د اعليحضرت امان الله خان د مُخلصينو سره تماس کوم، عرض کوم دا کار ماته لکه د سواد والا افغان، يو ډول ملي مسووليت ښکاري. زه د هغو عاليقدرو شخصيتونو په سر کې يې غازي پاچا امان الله خان (عليه الرحمه)، لکه عبدالحی حبيبي او نورو ورته کسانو استاذ محمود خان طرزي، د چرخي فاميل، لوی خان مير زمان، رسول خان پشتون، مير غلام محمد غبار، عبدالرحمن محمودي، سيد حسن خان فرقه مشر او نور نور معززين، چې د ژوند تر پايه مشروطيت ته نه يوازې صادق پاته سول، بلکه حاضر سول، خپل سرونه او


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

خپلې کورنۍ د هېواد افغانستان د ترقي په لار کې ورته قربان کړي، د زړه له کومې سر د تعظیم ټیټ کوم. دوی ول، چې د زړه له کومې یې غوښتل، افغانستان یو وار د بنسټیزې ترقي او سوکالي بهیر ته ورسم او هدایت کړي او افغان فرد یو هوسا، آرام او انساني چاپېریال کې په یوه هر لحاظ قوي افغانستان کې ژوند وکړي. دوی ول، چې د زړه له کومې یې ملاوې تړلې وې تر څو هغه هر اړخیز مصیبت پر افغان او افغانستان رانسي، کوم چې دغه تېر ۹۰ کاله د اماني دولت د ضایع کېدلو پس دغه تاریخي ملت وزغمه او همداء اوس یې هم زغمي.. د دغو عظیمو وطن پالو او د عمل ملت پالو زمونږ مشرانو لوی حق د درنشت، پرمونږ اوسني نسل او راتلوونکو افغان نسلونو لا پاته ده.

پای

مطالب نشر شده از **محمد ایاز نوری** در پورتال افغان جرمن آنلاین


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ